ایا زه تاسو ته د جنتیانو په اړه خبر در نه کړم؟ هر ضعیف انسان چې عاجزي کوي، نو که په الله قسم وخوري، الله به يې قسم پر ځای کړي، او آیا د جهنمیانو په اړه خبر در نه کړم: هر یو جګړه مار، کبرجن او لویې کوونکی انسان

له حارثة بن وهب الخزاعي رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوریدلي چې ویل یې: «ایا زه تاسو ته د جنتیانو په اړه خبر در نه کړم؟ هر ضعیف انسان چې عاجزي کوي، نو که په الله قسم وخوري، الله به يې قسم پر ځای کړي، او آیا د جهنمیانو په اړه خبر در نه کړم: هر یو جګړه مار، کبرجن او لویې کوونکی انسان».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د جنتیانو او دوزخیانو د ځینو ځانګړتیاوو په اړه فرمایي. د جنت اکثره خلک به: "هر ضعیف او عاجزه انسان وي" یعنی: هغه چې الله تعالی ته خاکساري او عاجزي کوي، خپل ځان یې د هغه په وړاندې ذلیله کړی وي، تر دې چې ځینې خلک یې کمزوری او سپک ګڼي، په داسې حال کې که چېرته همدا د الله تعالی په وړاندې عاجزه انسان په الله تعالی د هغه د سخاوتمند په تمه قسم یاد کړي، نو الله تعالی به يې قسم محقق او هغه غوښتنه به يې پوره کړي چې ده پرې قسم یاد کړی او دعا به يې قبوله کړي. او ډېری د اور خاوندان هغه انسانان دي چې زیږ او سخت جګړه مار وي، او یا هر هغه بد فعله انسان چې هېڅ خبر ته غاړه نه ږدي، هغه کبرجن، زیات خوراکي، د غټ جسم خاوند چې د تګ پر مهال په کبر او غرور سره ګرځي، بد خویه، او حق نه منونکی وي، او تل نورو ته په سپکه ګوري.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3573